**د افغانستان اسلامي امارت**

**د عدلیې وزارت**

**د پالیسۍ او پلان ریاست**

# د افغانستان اسلامي امارت د لومړیو شپږو میاشتو په ترڅ کې د عدلیې وزارت کاري راپور

# د شپږو میاشتو په ترڅ کې د عدلیې وزارت د کاري کړنو د راپور ورکونې فورم

**راپور ورکونکی :** ( د عدلیې وزارت).

**راپور اخېستونکی:** ( د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د دفتر ریاست).

د افغانستان اسلامي امارت په جوړښت کې له کلیدي وزارتونو څخه یو د عدلیې وزارت دی چې په مرکز کې له ۱۴ ریاستونو او ۱ آمریت او د هېواد په ولایتونو کې له ۳۳ ولایتي ریاستونو څخه جوړ دی چې د دې وزارت تر اغېز لاندې ریاستونو د شپږو میاشتو په ترڅ کې لاندې فعالیتونه تر سره کړي دي:

**تر سره شوي دنده ییزو فعالیتونه:**

## د قانون جوړونې او علمي ـــ حقوقي څېړنو د چارو د انستیتوت لوی ریاست:

**الف: د تقنیني سندونو د تسوید او تدقیق په برخه کې:**

د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې د محترم لوی ریاست د کابینې د چارو د انسجام ریاست، د دولت د چارو د انسجام معاونیت د ۱۴۴۳/۳/۲۳ نېټې د ۱۷۴ ګڼه لیک له مخې لاندې تقنیني سندونه د شــریعت لــه حکمونــو او د افغانستان اسلامي امارت له اصولو سره سم د بیا کتنې لپاره وزارتونو او امارتي ادارو ته ورلېږل شوي دي:

۱ـــ د مترولوژۍ (وزنونو او مقیاس) قانون طرحه چې مخکې په دیپارتمنت کې تدقیق او د پړاوونو د تېرولو لپاره چمتو وه د ۱۴۰۰/۱۰/۵ نېټې د ۴۷۰ ګڼه لیک په ذریعه د ستندرد ملي ادارې ته واستول شوه.

۲ـــ د ملکي هوایي چلند د امنیت د مقررې او د ملکي هوایي چلند د ادارې د کارکوونکیو د فني او تخنیکي مهــارت د امتیاز د مقررې طرحې چې د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې محترم لوی ریاست له لوري دې وزارت ته مسترد شوې دي او هم د ملکي هوایي چلند د قانون، د ملکي هوایي چلند د ادارې د دنــدو د تنظــیم د مقــررې، د واټیــزو ټرانسپورټي شرکتونو د رامنځته کولو او فعالیتونو د ډول د مقررې او د ټرانسپورټي ترمینالونو د رغولو، تنظیم او مراقبت د مقررې طرحې چې مخکې د ملکي هوایي چلند محترمې ادارې او د ټرانسپورټ محترم وزارت له لوري د پړاوونو د تېرولو لپاره دې وزارت ته استول شوې وه د ۱۴۰۰/۹/۶ نېټې د (۲۵۳) ګڼه او د ۱۴۰۰/۱۱/۵ نېټې د (٦٧٦) ګڼه لیکونو په ذریعه د ټرانسپورټ وزارت او ملکي هوایي چلند ته.

۳ـــ د استوګنیزو ځایونو د رهن د قانون، په بانکي معاملو کې د نا منقولو مالونو د رهن د قانون د تعــدیل، د خصوصــي ودانیو او ټولنو د چارو د تنظیم د مقررې، د ښاري غیر رسمي ملکېتونو د چارو د تنظیم د مقررې د تعدیل او ښاري پراختیا دولتي شرکت د بنسټنامې طرحې د ۱۴۰۰/۹/٦ نېټې د (۲۵۴) ګڼه لیک په ذریعه د ښار جوړونې او اراضــۍ محتــرم وزارت ته.

۴ـــ د غیر دولتي مؤسسو د قانون طرحه، د غیر دولتي مؤسسو د کارکوونکیو د استخدام د مقررې، د غیر دولتي مؤسسو د رهبرۍ د جوړښت د مدیریت د مقررې، له سکټوري ادارو سره د مؤسسو د فعالیتونو د همغږۍ د مقررې او د پروژو او پرمختیایي برنامو د څارنې او ارزونې د مقررې طرحې د ۱۴۰۰/۹/٦ د (۲۵۲) ګڼه لیک په ذریعه اقتصاد وزارت ته.

۵ــ د کرنیزو انجمنونو او ټولنو د قانون طرحه او د چرګ او د هغه د محصولاتو د تولید او تورید د مقــررې طرحـــه د ۱۴۰۰/۹/۶ نېټې د (۲۵۱) ګڼه لیک په ذریعه د کرنې او مالدارۍ وزارت ته.

۶ــ د دیجیتلي تصدیقونو د مقررې طرحې او د مخابراتو او تکنالوژۍ وزارت د دنــدو د تنظــیم د مقــررې طرحـــه د ۱۴۰۰/۹/۶ نېټې د (۲۵۰) ګڼه لیک په ذریعه د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت ته.

۷ــ د تکافل د قانون او د بیمې د قانون طرحې د ۱۴۰۰/۹/۷ د (۲۵۵) ګڼه لیک په دریعه مالیې وزارت ته.

۸ــ د ښاروالیو د قانون د تعدیل او د استملاک د قانون د تعدیل په اړه د نظر څرګندول چې د کابل محترم ښاروالۍ لـــه لوري دې وزارت ته د تدقیق او له قانوني پړاوونو څخه تېرولو لپاره استول شوی و.

۹ــ د ملي ستندرد محترمې ادارې ته د مترولوژي (وزنونو او مقیاس) قانون په اړه د نظر څرګندول.

۱۰ــ د آریانا افغان هوايي شرکت له دولتي شرکت څخه د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د (۱۵) ګڼې مصوبې پـــر بنسټ د تقنیني سندونو د طرحې غوښتنه.

۱۱ــ د مالیې محترم وزارت ته د تکافل د قانون په اړه د نظر څرګندول او د معلوماتو وړاندې کول.

۱۲ــ د آریانا افغان هوایي شرکت د استول شویو تعدیلاتو په اړه د نظر څرګندول.

۱۳ــ په راکړه او ورکړه کې د بهرنیو اسعارو له ګټې اخیستنې څخه د مخنیوي په اړه د نظر څرګندول.

**ب: د افغانستان اسلامي امارت وزارتونو او ادارو ته د قانوني مشورو د ورکولو په برخه کې:**

۱- د موټر سایکلو د جواز سیر د صادرولو په اړه د کندهار ولایت عدلیې ریاست ته د قانوني مشورې ورکول.

۲- د کتنځایونو د صنفي جواز په اړه د عامې روغتیا وزارت ته د قانوني مشورې ورکول.

۳- د بار چلونې مؤسسې په اړه د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت ته د قانوني مشورې ورکول.

۴- د جریمو د وضعې په اړه د ستندرد ملي ادارې ته د قانوني مشورې ورکول.

۵- د حرفوي او مسلکي تصدیق په اړه کابل ښاروالۍ ته د قانوني مشورې ورکول.

۶- پر سوداګریزو دعواو باندې د حاکم سوداګریزو قوانینو په اړه د بهرنیو چارو وزارت ته د قانوني مشورې ورکول.

۷- د مترولوژي قانون په اړه د ستندرد ملي ادارې ته د قانوني مشورې ورکول.

۸- د تضمین د ورکولو په اړه د آریانا افغان هوایي شرکت ته د قانوني مشورې ورکول.

۹- د صنفي جواز په اړه د لغمان ولایت عدلیې ریاست ته د قانوني مشورې ورکول.

۱۰- د ایران هېواد لوري ته د الوتنو په اړه د آریانا افغان هوایي شرکت ته د قانوني مشورې ورکول.

۱۱- د بانکونو د کارکوونکیو مقررې په اړه د پښتني بانک ریاست ته د قانوني مشورې ورکول.

۱۲- د ملکي هوایي چلند د قانون د تعدیل په اړه د آریانا افغان هوایي شرکت ته د قانوني مشورې ورکول.

۱۳- په قراردادونو کې د جریمې د وضعې په اړه د مکروریانونو د ساتنې او مراقبت دولتي شرکت ته د قانوني مشـــورې ورکول.

**ج: د تقنیني سندونو د تسوید او تدقیق غونډو د جوړولو په برخه کې:**

۱- د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۴۳/۳/۴ نېټې د (۵) ګڼې مصوبې او د ۱۴۴۳/۴/۲۴ نېټې د (۱۲) ګڼې مصوبې د تعمیل په منظور په لاندې نېټو کې د اړوندو استازیو په ګډون غونډې جوړې شوې دي:

۲- په ۱۴۰۰/۱۱/۲ نېټه د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند د محترم وزارت د استازیو په ګډون.

۳- په ۱۴۰۰/۱۱/٦ نېټه د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند د محترم وزارت، د ترافیکو د محترم ریاست او د کابل د محترم ښاروالۍ د استازیو په ګډون.

۴- په ۱۴۰۰/۱۱/۹ نېټه د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند د محترم وزارت او د ترافیکو د محترم ریاست د استازیو په ګډون.

۵- په ۱۴۰۰/۱۱/۱۱ نېټه د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند د محترم وزارت، د ترافیکو د محترم ریاست او د کابل د محترم ښاروالۍ د استازیو په ګډون.

٦- په ۱۴۰۰/۱۱/۱٦ نېټه د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند د محترم وزارت، د ترافیکو د محترم ریاست او د کابل د محترمې ښاروالۍ د استازیو په ګډون.

۷- د نورو وزارتونو او ادارو په غونډو کې د ګډون په برخه کې.

۸- په اقتصاد وزارت کې د بشري مرستو د تنظیم په اړه.

۹- په اقتصاد وزارت کې د غیر دولتي مؤسسو د ثبت په اړه.

۱۰- په کورنیو چارو وزارت کې په راکړه او ورکړه کې د بهرنیو اسعارو له ګټې اخیستنې څخه د مخنیوي پــه اړه دوه غونډې.

۱۱- د افغانستان بانک د بانکنوتونو د خپرولو او مراقبت د پلاوي په ترکیب کې د ګډون درې غونډې.

۱۲- د افغانستان بانک د بانکنوتونو د له منځه وړلو د پلاوي په ترکیب کې د ګډون درې غونډې.

۱۳- د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په اړه په ورکشاپ کې د ګډون.

۱۴- د اړتیا په وخت کې د اجرائیه کمېټې په غونډو کې په دوامداره توګه ګډون شوی دی.

۱۵- د دیپارټمنت د چارو د لا ښه پر مخ وړلو په منظور د غونډو د جوړولو په برخه کې.

۱٦- د دیپارټمنت د چارو د لا ښه پر مخ وړلو په منظور په دوامداره توګه د هره ورځو کې غونډې جوړېږي، له وزارتونو او ادارو څخه د را رسېدلیو تقنیني سندونو د تعدیلاتو د طرحې په اړه هره ورځ غونډې جوړېږي و هم دارنګه د پنجشنبې په ورځو کې د تر سره شویو کارونو ارزونه په دوامداره توګه صورت مومي.

## د زده کړه یېزو، فرهنګي او روغتیایي قوانینو دیپارټمنت

۱- په دیپارټمنت کې د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو قانون مسوده تدقیق شــوه او د قــانون جــوړونې د چــارو د انستیتوت په اجرائیه کمېټه کې له وروستي تدقیق څخه وروسته، د نظر د څرګنــدولو لپــاره د ۱۴۰۰/۱۱/۳۰ نېټــې د (۹۴۵) ګڼه لیک په ذریعه د قوانینو د طرحې د پروژې محترم آمریت ته واستول شوه.

۲- د قوانینو (۱۱) مسودې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لاربښود څخه وروسته د جلا لیکونو په ذریعه اړوندو وزارتونو او ادارو ته واستول شوې.

۳- د مقررو (۲۷) مسودې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لاربښود څخه وروسته د جلا لیکونو په ذریعه اړونــدو وزارتونو او ادارو ته واستول شوې.

۴- د بنسټنامو (۲)مسودې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لارښود څخه وروسته د جلا لیکونو په ذریعه اړونـــدو وزارتونو او ادارو ته واستول شوې.

۵- د قانون (۲) مشورې د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم ملي ادارې او د افغانستان اسلامي امـــارت د علومـــو اکادمۍ ته وړاندې شوې.

٦- د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو د قانون مسوده چې مخکې د تصویب لپاره پارلمان ته اســـتول شـــوې وه د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د لارښود په پام کې نیولو سره د تخنیکي، مسلکي زده کړو ادارې ته واستول شوه.

٧- د افغانستان له اسلامي امارت څخه د مخکېنۍ دورې د تقنیني سندونو په اړه د افغانستان اسلامي امارت د چـــارو د ادارې په غونډه کې د نوموړي دیپارتمنت رئیس ښاغلی عبدالمجید غني زاده او د مفتي صاحب محمد ابراهیم دیوبنـــدي ګډون.

٨- د نوموړي دیپارتمنت مسلکي غړی احسان الله نیکزاد د ۱۴۰۰/۹/۱۳ نېټې د (۳۵٦) ګڼه لیک په ذریعه د بین المللي روغتیا مقررې د څو سکتوري کمېټې په غونده کې عامې روغتیا وزارت ته ور پېژندل شوی دی.

۹- د قوانینو د مطالعې او تشریح دیپارتمنت رئیس مفتی صاحب احمد او د نوموړي ریاست مسلکي غـــړی عبـــدالرحمن سلیمي د ۱۴۴۳/۵/۳۰ نېټې د (۴٦۱) ګڼه لیک په ذریعه د زده کړه ییزو سندونو د ارزونې او د دیني علماوو د علمـــي سویې د تثبیت په غونډه کې پوهنې وزارت ته معرفي او ګډون یې کړی دی.

**<u>د بین الملل او د بشر د حقوقو د قوانینو دیپارتمنت</u>**

الف- د تقنیني سندونو په برخه کې:

**د عدلیې وزارت مقام له لارښود سره سم، مخکېني تقنیني سندونه د جمهوریت د وخت له تقنیني سندونو سره چې د دې دیپارتمنت اړوند کېږي، تر څېړنې لاندې نیول شوې وو او برابر شوی پرتلیزه جدول یې په لاندې ډول دي:**

د پاسپورت قانون، د افغانستان په قلمرو کې د خارجي اتباعو د مسافرت او اقامت قانون، د مصدقه ســـندونو د قـــانون تعدیل، هم دارنگه د بهرني سیاست د سندونو د آرشیف مقرره.

**د ۱۴۰۰/۷/۱۸ نېټې په (۹) ګڼه مصوبه کې او د ۱۴۰۰/۹/۲۹ نېټې په (۱۵) ګڼه مصوبه کې له درج شوي لارښود سره سم د تقنیني سندونو (۱۵) طرحې، له شرعي او اداري پلوه د بیا کتنې لپاره او د هغو د تعدیل طرحه برابره پلي کوونکو او اړوندو ادارو ته واستول شوه چې یادې طرحې په لاندې ډول دي:**

۱ـــ د تابعیت د قانون طرحه، د قونسلي خدمتونو د محصول قانون طرحه، د پناه غوښتنې د قانون طرحه، د کېمیاوي وسلو د پرمختیا، تولید، زېرمه او له هغو څخه د ګټې اخیستنې او له منځه وړلو د منعې د قانون طرحه، له بیولوژیکي وسلو څخه د منعې د قانون طرحه، د بشر د حقوقو د ملاتړ د قانون طرحه.

۲ـــ د بهرنیو چارو وزارت د کړنو او دندو د تنظیم د مقررې طرحه، د کډوالو او بېرته را ستنېدونکیو د چارو وزارت د دندو د تنظیم د مقررې طرحه، د چلولو جواز د مقررې طرحه، د ځمکنیو لېږدونکیو وسایطو د جواز سیر د مقررې طرحه، د اوسپنې پټلۍ د ادارې د تشکېل او واکونو د مقررې طرحه، د ریل د سیر او حرکت د مقـــررې طرحـــه، د دولتـــي او خصوصي اوسپنو پټلیو په ساختماني او عملیاتي برخو کې د جواز د وېش د مقررې طرحه، هـــم دارنګـــه د وارداتـــي او صادراتي کالیو د لېږد را لېږد د مقررې طرحه.

۳ــ د افغانستان د کبنتي چلولو د دولتي شرکت د بنسټنامې طرحه.

**ب– د تړونونو په اړه د قانوني نظر د څرګندولو په برخه کې**

د لاندې تړونو په اړه قانوني نظر څرګند شوی دی او د وررستیو کړنو لپاره لیکلی قانوني نظر د اړتیا په وخت کې اړوندې اداري ته استول شوی دی:

۱ــ د جلال آباد او پېښور تر منځ د مسافر وړونکیو بسونو د خدمتونو د پېل په اړه د افغانستان اسـلامي امـارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت د حکومت تر منځ د هوکړه لیک غزول.

۲ــ د جلال آباد او پېښور تر منځ د مسافر وړونکیو بسونو د خدمتونو د پېل په اړه د افغانستان اسـلامي امـارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت د حکومت تر منځ د هوکړه لیک د پروتوکول غزول.

۳ــ د کندهار او کوېټې تر منځ د مسافر وړونکیو بسونو د خدمتونو د پېل په اړه د افغانسـتان اسـلامي امـارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت تر منځ د هوکړه لیک غزول.

۴ــ د کندهار او کوېټې تر منځ د مسافر وړونکیو بسونو د خدمتونو د پېل په اړه د افغانسـتان اسـلامي امـارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت تر منځ د هوکړه لیک د پروتوکول غزول.

۵ــ د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه او د بشري حقوقو ۴ کنوانسیونونه ( د مدني او سیاسـي حقوقـو بـین المللـي کنوانسیون، د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوقو بین المللي کنوانسیون، د ماشوم د حقوقو بین المللي کنوانسیون او د ښځو پر وړاندې د هر تبعیض د لرې کولو (سیدا) بین المللي کنوانسیون) څېړنه و شوه او شرعي ستونزې یې تشخیص او د قانون جوړونې د چارو انستیتوت د رهبرۍ له لارې وزارت مقام ته وړاندې شوه.

**ج– د قانوني مشورې د ورکولو په اړه**

پر (۴) مسئلو باندې، قانوني مشورې برابرې او اړوندو لاربښودونکیو ادارو ته د هغوي د وروستیو کړنو لپاره استول شوې دي چې په لاندې ډول دي:

۱ــ د افغانستان تبعه ښاغلی وزیر محمد ابراهیمي د بېرته راستنېدو غوښتنې ته د رسېدنې په اړه د بهرنیو  چارو محتـرم وزارت ته قانوني مشوره ورکړل شوې ده.

۲ــ د افغان ملي بانک د ملکیت د مصادرې د لرې کولو په اړه چې په پېښور کې واقع دی د دې وزارت د اسلامي امارت د قضایاوو محترم لوی ریاست او د دفتر مقام ته قانوني مشورې ورکړل شوي دي.

۳ــ د چلولو جواز د مقررې د طرحې د پړاوونو د تېرولو په اړه د کورنیو چارو محترم وزارت ته قانوني مشوره ورکـړل شوې ده.

۴ــ د افغانستان په قوانینو کې د بین المللي تړونونو د ځای په اړه، معلومات راټول او برابر شوي دي او د قانون جوړونې د چارو انستیتوت د رهبرۍ له لارې وزارت مقام ته وړاندې شوي دي.

**<u>د کار او اداري د قوانینو دیپارټمنت</u>**

۱ــ د وزارتونو او امارتي ادارو د لاربښودونو پر بنسټ (۲۲) قانوني مشورې ورکړل شوي دي.

۲ــ د امارتي کارکوونکیو د تقاعد د حقوقو په اړه د غونډې جوړول او د مؤظف پلاوی د نظر برابرول.

۳ـــ د وزارت د مقام د لارښود پر بنسټ د هغو تقنيني سندونو د بيا کتنې لپاره چې له اســـلامي شـــريعت، د افغانســـتان اسلامي امارت له اصولو او له ملي ګټو او مصالحو سره په ټکر کې نه وي د قانون جوړونې د چارو د انستيتوت په غونډو کې ګډون.

۴ـــ د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې د لارښود پر بنسټ هغه تقنيني سندونه چې د جمهوريت په رژيم کـــې د تصويب او تأييد لپاره وړاندې شوي وو د بيا کتنې او له هغو سره سمون له اسلامي شريعت، د افغانستان اسلامي امارت له اصولو او پاليسۍ سره اړوندو وزارتونو او ادارو ته اعاده.

## د مدني قوانينو دیپارتمنت

۱ـــ د وزارت محترم مقام له لارښود سره سم امارتي ادارو او عارضينو ته د (۲۲) قانوني مشورو ورکول.

۲ـــ د اسلامي شريعت له حکمونو او د افغانستان اسلامي امارت له اصولو سره سم د بيا کتنې لپاره اړوندو وزارتونـــو او امارتي ادارو ته د تقنيني سندونو د طرحې مستردول.

۳ـــ د حقوقو د ترلاسه کولو د دولتي قانون د ځينو مادو د تعديل طرحه، د عرايضو د وارسۍ د مقررې طرحه، د سياســـي ګوندونو د تأسيس او ثبت د دولتي د مقررې په ځينو مادو کې د تعديل طرحه، د سياسي ګوندونو د قانون طرحه، د ټولنو د قانون طرحه، د حقوقي عامه پوهاوي د مقررې طرحه، د قضائيه قوې د تشکيل او واکونو د قانون طرحه، د احصايې قانون په ځينو مادو کې د تعديل طرحه، د احوالو او نفوسو د ثبت قانون په ځينو مادو کې د تعديل طرحه، د وحشي حيوانـــاتو د ساتنې او د ښکار د تنظيم د قانون طرحه، اجازه ليک پورې د اړوند چارو د تنظيم د مقررې طرحه، د کرنيزو آفت وژونکيو ثبت او ايمني اقدامات، د څړ ځای د قانون طرحه، د ګډې ځنګلدارۍ د مقررې طرحه،د نباتي ورايټيو د قانون په ځينو مادو کې د تعديل طرحه، د کيمياوي او عضوي سرو د تنظيم د قانون طرحه، د ځښاک د اوبو د وېشلو د مقـــررې طرحـــه، د فاضلابو د تشولو د چارو تنظيم د قانون طرحه، د نه ځښاک موخو ته د مستعملو اوبو څخه د ګټې اخيســـتنې د مقـــررې طرحه، د اوبو له سرچينو څخه د ګټې اخيستنې د اجازه ليک د مقررې طرحه، د انرژۍ د خدمتونو د تنظيم د قانون طرحه، د بام په سر د فوتولتيک لمريز بريښنا د سيستم د نګه اندازه اخيستې (ميټر کتنې) د مقررې طرحه، تر ځمکې لاندې د اوبو د سرچينو د مديريت د مقررې طرحه، د اوبو د چارو د تنظيم ملي ادارې د کړنو او فعاليتونو د تنظيم د مقررې طرحـــه، د اوبو د تخصيص د مقررې طرحه، په افغانستان کې له پولې هاخوا د خطرناکو زباليو د لېږد او له هغو څخه دفع د تنظيم او کنترول د مقررې طرحه، د هستوي فعاليتونو د فيس او د جواز د صادرولو د مقررې طرحه او راديو اکتيف د موادو د لېږ را لېږد د مقررې طرحه، د صنعتي ساحو تنظيم او له هغو څخه د څارنې د مقررې طرحه، د خطرناکو زباليو د څـــارنې او تنظيم مقرره، د اوزون د لايې د ويجاړونکيو موادو د کنترول د مقررې په ځينو مادو کې د تعديل طرحـــه، د کدســـتر د سروې د طرحې قانون، د جيوديزۍ، نقشه اخيستنې او د کارتوګرافۍ د خدمتونو د مقررې طرحه، د قبالې د اجرا د قانون طرحه، د مرعي ثبت د مقررې طرحه، د دولتي او عامه غير قانوني متصرفو ځمکو د مقررې طرحه، د عرفي ملکيت له سند څخه د ګټې اخيستنې د ميکانيزم طرحه، د وقفي ملکيتونو د چارو د تنظيم د قانون طرحه، د پلازمېنې زون د پرمختيـــا د قانون طرحه، د پلازمېنې زون د پرمختيا ادارې د دندو د تنظيم د مقررې طرحه او د ولايتي او ولسوالي شوراګانو د څارنې د دولتي د مقررې طرحه.

۴ــ په هغه کمېټه کې چې د قانون جوړونې د چارو انستيتوت د ښاغلی مولوي سعيد الله حنفی په رياست جوړېده د وزارت د مقام له لارښود سره سم د دولت د قضاياوو په قانون، د معاملو د لارښوونې قانون، د حقوقو د ترلاسه کولو د ډول قانون او د مدافع وکيلانو په قانون کې د شرعي او اداري ستونزو د موندنې لپاره د غونډو جوړول.

۵ــ له حقوقي عريضو څخه د حق الثبت د تر لاسه کولو په اړه د لارښود د اخيستنې په منظور د افغانستان اسلامي امارت دارالافتاء ته د استفتاء برابرول.

۶ــ د تقنيني سندونو د تعديل او د تقنيني سندونو د طرحې د پړاوونو د تېرولو په اړه د وړانديز برابرول او د وزارت لـــه محترم مقام څخه د لارښود اخيستنه.

۷ــ د محکمېو تقنيني سندونو په اړه د فرمان لومړنی تسويد د افغانستان اسلامي امارت مقام ته، هم دارنگه د هېواد تقنيني سندونو د غور په اړه د فرمان لومړنی تسويد د افغانستان اسلامي امارت مقام ته.

۸ــ د هغو تقنيني سندونو په اړه چې د تېرو شلو کلونو په ترڅ کې له پړاوونو څخه تېر او نافذ شـــوي دي د افغانســـتان اسلامي امارت د عدليې وزير لومړنی پيغام.

۹ــ د پښتو ژباړې لپاره د امارت د قضاياوو د قانون د طرحې لومړنی تدقيق وړاندې شوی دی، هم دارنگه د معـــاملو د لارښوونې د قانون د طرحې لومړنی تدقيق د قانون جوړونې د چارو انستيتوت د اجرائيه کمېټې تر کار لاندې دی.

۱۰ــ د ټولنو د قانون د طرحې تدقيق او د پښتو متن د ژباړې لپاره د سندونو د ژباړې او تصديق رياست ته د هغه وړاندې کول.

۱۱ــ د ټولنو د ثبت د ډول د مقررې د طرحې لومړنی تدقيق او د پښتو متن تصحيح لپاره د هغه وړاندې کول، هم دارنگه د فاضلابو د تشولو د چارو د تنظيم د مقررې د طرحې لومړنی تدقيق د پښتو متن تصحيح لپاره د ســـندونو د ژبـــاړې او تصديق رياست ته وړاندې شوی دی.

۱۲ــ د اوبو د تخصيص د مقررې طرحې لومړنی تدقيق د پښتو متن تصحيح لپاره وړاندې شوی دی، هم دارنگه تر څمکې لاندې د اوبو د سرچېنو د مديريت د مقررې د طرحې لومړنی تدقيق.

۱۳ــ د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونه چې محکمې د عدليې وزارت له تشکيل څخه د زندانونو د چارو د تنظيم له ادارې سره مدغم شوي دي د افغانستان اسلامي امارت د ۱۴۰۰/۶/۲۴ نېټې د (۱) گڼې مصوبې (۱۰) بند د لارښود له مخې د حقوقي نظريې طرحه او برابرول او د ۱۴۴۳/۳/۴ نېټې د (۴۲) گڼه ليک په ذريعه د افغانستان اسلامي امـــارت د چارو ادارې ته د هغې استول.

۱۴ــ د انستيتوت د محکمېی سرپرست ښاغلی مولوي سعيد الله حنفي د لارښود پر بنسټ د ټولنو او په افغانستان کـــې د هغو تاريخي سوابقو په اړه د نظريې طرحه او برابرول او د کابينې ۱۴۴۳/۴/۲ نېټې د (۹) گڼه مصوبې ۱۰ بند مؤظـــف پلاوی ته د هغې وړاندې کول.

۱۵ــ د انستيتوت د محکمېی سرپرست ښاغلی مولوي سعيد الله حنفي د لارښود پر بنسټ د خيريه بنسټونو د کـــړنلارې طرحه او برابرول او د کابينې ۱۴۴۳/۴/۲ نېټې د (۹) گڼه مصوبې ۱۰ بند مؤظف پلاوی ته د هغې وړاندې کول.

۱۶ــ د انستيتوت د محکمېی سرپرست ښاغلی مولوی سعيد الله حنفي د لارښود پر بنسټ د خيريه بنسټونو د کړنلارې په اړه د موظف پلاوی د ۱۴۰۰/۸/۲۳ نېټې د غونډې مصوبه طرحه او برابرول، هم دارنگه د ۱۴۰۰/۹/۷ نېټې د (۲۶۷)

ګنه لیک په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت کابینې ته د مؤظف پلاوی له تأیید څخه وروسته د خیریه بنسټونو د کړنلارې د طرحې استول.

۱۷ــ د قانون جوړونې د چارو انستیتوت په اجرائیه کمېټه کې د پورته یادو شویو تقنیني سندونو د طرحې د تـدقیق پـه غونډو کې د مدني قوانینو د مسلکي غړیو ګډون.

**د جزایي قوانینو دیپارتمنت**

۱ــ د سرو زرو پلورونکو سکتور پورې د اړوندو فعالیتونو د رسمي کېدلو طرحه تسوید او د تصویب لپاره د افغانسـتان اسلامي امارت د چارو اداري محترم لوی ریاست ته د ۱۴۴۳/۵/۲۶ نېټې د (۱۳۱۰) لیک په ذریعه استول شوې ده.

۲ــ د جسدونو د راټولولو، خپلوانو ته د سپارلو یا د هغوي د تـدفین د مقـررې د ځینـو مـادو د تعـدیل طرحـه د ۱۴۰۰/۱۰/۲ نېټې د (۴۵۵-۴۴۸) ګنه لیکونو په ذریعه د هغو اړوند مرجع ته استول شوې ده.

۳ــ د باطله مهرونو د له منځه وړلو په اړه د ۱۴۰۰/۱۰/۱۱ نېټې د ۵۲۱ ګنه لیک په ذریعه د دفتر محترم مقام ته نظر څرګند شوی دی.

۴ــ د داخلي پلټنې د مقررې د مسودې په اړه د ۱۴۰۰/۱۰/۱۹ نېټې د (۵۷۲) ګنه لیک په ذریعه د عـدلیې وزارت د داخلي پلټنې محترم ریاست ته نظر څرګند شوی دی.

۵ــ د مدافع وکېلانو د سمون کړنلاره تدقیق او د ۱۴۰۰/۱۱/۱۸ نېټې د ۸۷۶ ګنه لیک په ذریعه د قانوني پړاوونـو د تېرولو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د چارو د اداري محترم ریاست ته استول شوې ده.

۶ــ د پړاوونو د تېرولو د قانون، د امارت د قضایاوو د قانون، د معاملو د لاربښوونو د قـانون او د مـدافع وکېلانـو د کړنلارې د طرحې په غونډو کې ګډون.

**د قوانینو د مطالعې، تشریح او زده کړې دیپارتمنت**

۱ــ د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو د قانون د تسوید او تدقیق په غونډو کې د دیپارتمنت د رئیس او مسلکي غړیـو ګډون، د ټولنو د قانون د تسوید او تدقیق په غونډو کې د دیپارتمنت د رئیس او مسلکي غړیو ګډون او هـم دارنګـه د امارت د قضایاوو د قانون د تسوید او تدقیق په غونډو کې د دیپارتمنت د رئیس او مسلکي غړیو ګډون.

۴ــ د کونړ، جوزجان او پکتیا ولایتونو عدلیې ریاستونو ته د (۳) قانوني مشورو ورکول او د حقوقي نظر څرګندول.

۵ــ د سترې محکمې د لوګو (نښان) په اړه د قانوني نظر څرګندول، د پوهنې وزارت د لوګو (نښان) په اړه د قانوني نظر څرګندول، د استخباراتو د لوی ریاست د لوګو (نښان) په اړه د قانوني نظر څرګندول، د بهرنیو چـارو وزارت د لوګـو (نښان) په اړه د قانوني نظر څرګندول، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د لوګو (نښان) په اړه د قانوني نظـر څرګندول او هم دارنګه د احصائیه او معلوماتو ملي ادارې د لوګو (نښان) په اړه د قانوني نظر څرګندول..

۶ــ د افغانستان اسلامي امارت په مخکېنۍ دوره کې د نافذو قوانینو، مقررو او بنسټنامو د نوملړ برابرول.

۷ــ د اوبو او انرژۍ وزارت په غونډو کې د دیپارتمنت د رئیس ګډون.د دیني علماوو د تحصیلي سـندونو پـه اړه د پوهنې وزارت او د لوړو زده کړو وزارت په غونډو کې د دیپارتمنت د رئیس ګډون.

۸ــ د افغانستان (۳۴) ولایتونو پورې اړوند د عدلیې ریاستونو، د حقوقو آمریتونو، د امارت د قضـایاوو آمریتونـو او د انسجام آمریتونه د مهرونو (۱۳۲) نمونې برابرول.

۹ـــ د عدلیې وزارت د داخلي ریاستونو د مهرونو برابرول.

**د اقتصادي او مالي قوانینو دیپارټمنټ**

۱ـــ په اقتصادي او مالي برخه کې د اسلامي شریعت له حکمونو سره د (٦٣) تقنیني سند بررسی او سمون ورکول.

۲ـــ غوښتونکي وزارتونو او ادارو ته د هغو د ستونزو د لرې کولو لپاره د (۹) قانوني مشورو ورکول.

۳ـــ له نافذ قانون سره د افغانستان اسلامي امارت د لومړۍ دورې د احتکار د منعې قانون پرتله او د توپیرونو موندنه.

۴ـــ د انستیتوت د اجرایي کمېټې په غونډو کې د اقتصادي او مالي قوانینو د دیپارټمنټ د رئیس ګډون.

۵ـــ د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۰۰/۹/۲۹ نېټې د (۱۵) ګڼه مصوبې د (۳ــ۱۱) بند له لارښود سره سم د بدخشان د شورابک بند د قرارداد او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) پورې د اړوندو قوانینو په اړه د اوبــو او انرژۍ وزارت او د صنعت او سوداګرۍ وزارت په غونډو کې ګډون (د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د آریانا افغان هوایي شرکت او د کابل ښاروالۍ) پورې اړوندو ادارو ته د تقنیني سندونو د تعدیلاتو طرحه.

٦ـــ د ۱۳۹۱ کال په (۱۰۷۸) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې د افغانستان د اقتصادي پرمختګونـــو د نـــدارتون د جوړولو د مقررې تعدیل چې په دې وروستیو کې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې لارښود له مخې، د پراوونو د تېرولو لپاره د صنعت او سوداګرۍ محترم وزارت له لارې استول شوی دی، تر کار لاندې دی.

**د رسمي سندونو د ژباړې او تصدیق ریاست:**

۱ـــ ژباړل شوي تقنیني سندونه: ۱۱۲

۲ـــ صادر شوي جوازلیکونه: ۱۰ ګڼه.

۳ـــ تصدیق شوي رسمي سندونه: ۳۴۵۷۹.

## د بهرنیو اړیکو ریاست:

۱ـــ د افغانستان د پراختیا او د بیا جوړونې د همغږۍ له مؤسسې سره (CRDSA) په ۸ ولایتونو ( کابل، هـــرات، بلـــخ، سمنګان، بامیان، غور، بادغیس او دایکندي) کې د یادې مؤسسې د فعالیتونو د بیا پیل په اړه د غونډې جوړول او د یادې مؤسسې او د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت تر منځ د یوه هوکړه لیک برابرول څو د مؤسسې فعالیتونه د هغه په چوکات کې صورت ومومي.

۲ـــ د کډوالو لپاره د ناروې پلاوی له مؤسسې (NRC) سره د غونډې جوړول او د افغانستان په ۱۲ ولایتونو کې د هغو د فعالیتونو پېژندنه څرنګه یې چې د خپل فعالیت د ډول او ساحې په اړه معلومات ورکړل او په ۱۲ ولایتونو کې د خپلو د مخکینیو فعالیتونو د دوام لپاره د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت له لوري د اجازې د ورکړې غوښتونکې شــوه چې ۱۲ ولایتونو ته د عدلیې وزیر صاحب په لاسلیک د بهرنیو اړیکو له لوري رسمي لیک واستول شو او په دغو ولایتونو کې یادې مؤسسې ته د ۲۰۲۱ میلادي کال تر پایه پورې د فعالیت اجازه ورکړل شوه.

۳ـــ د هغو له فعالیتونو څخه د پوهاوي لپاره د ایمیل او وتساپ له لارې د کډوالو لپاره د ناروې پلاوي له موسسې ســـره دوامداره اړیکې رامنځته کول.

۴ــ د توحید د ټولنیز او پرمختیایي چارو له مؤسسې (TSDO) سره د غونډې جوړول او د افغانستان په ۴ ولایتونو کې د هغو د فعالیتونو پېژندنه څرنګه یې چې د خپل فعالیت د ډول او ساحې په اړه معلومات وړاندې کړل او د ۲۰۲۱ میلادي کال د دسمبر میاشتې تر پایه پورې په کابل، ننګرهار، بلخ او کندهار ولایتونو کې د خپلې پروژې د پلي کولــو لپــاره د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت له لوري د اجازې د ورکړې غوښتونکې شول چې یادو ولایتونو ته د عــدلیې د وزیر صاحب په لاسلیک د بهرنیو اړیکو له لوري رسمي لیک واستول شو او یادې مؤسسې ته د ۲۰۲۱ میلادي کــال د دسمبر میاشتې تر پایه پورې د فعالیت اجازه ورکړل شوه.

۵ــ د هغو له فعالیتونو څخه د پوهاوي لپاره د ایمیل او وتساپ له لارې د (TSDO) له موسسې سره د دوامدارې اړیکې رامنځته کول.

۶ــ د بهرنیو اړیکو ریاست له مؤسسو سره د همغږۍ د څانګې د فعالیتونو پر مخ وړلو لپاره د اصول لیک برابرول.

۷ــ له مرسته کوونکیو بنسټونو سره چې له ۱۰ څخه زیاتو مؤسسو جوړ دی د یاد بنسټ د فعالیتونو د پرمخ وړلو په زمینه کې د هغو د فعالیتونو پېژندنه او څرنګوالي او د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت همکــارۍ لپــاره د غونــډې جوړول. همداراز له بنسټ څخه د بهرنیو اړیکو ریاست له لوري د هغو د پروژې سندونه او عمومي معلومات و غوښــتل شو چې د هغه په رڼا کې مرسته کوونکې بنسټ خپل فعالیتونه پیل کړي.

۸ــ د مرغومې میاشتې په ۱ او ۲ نېټو کې د توحید د ټولنیز او پرمختیایي چارو د مؤسسې (TSDO) د فعالیتونو د څارنې او بررسۍ لپاره ننګرهار ولایت ته ۲ ورځینی سفر.

۹ــ د سلواغې په میاشت کې د هرات په ولایت کې د کډوالو لپاره د ناروې پلاوی د مؤسسې (NRC) له فعالیتونو څخه بررسي او څارنه او هم دارنګه د سلواغې په میاشت کې د هرات په ولایت کې د افغانستان د پرمختیا او د بیــا جــوړونې همغږۍ د مؤسسې (CRDSA) له فعالیتونو څخه بررسي او څارنه.

۱۰ــ د عدلیې وزارت په استازیتوب د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په غونډو کې ګــډون، د غیــر دولتــي مؤسسو له فعالیتونو څخه د بررسۍ او څارنې د څرنګوالي په اړه د اقتصاد وزارت په غونډو کې ګډون او هم دارنګه د آغا خان شرکت په اړه د اوبو او انرژۍ او برېښنا وزارت په غونډو کې ګډون.

۱۱ــ د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت او کډوالو لپاره د ناروې پلاوی د موسسې (NRC) ترمنځ د هــوکړه لیک د پړاوونو تېرول.

۱۲ــ د افغانستان د پرمختیا او د بیا جوړونې همغږۍ مؤسسې (CRDSA) د فعالیتونو راپور اخیستل او د هغه د پړاوونو تېرول او هم دارنګه د کونړ په ولایت کې د کډوالو لپاره د ناروې پلاوی د موسسې (NRC) د فعالیتونو راپور اخیستل.

۱۳ــ دې ادارې ته د تابعیت د ترلاسه کولو دوه قضیې او د پرېښودلو دوه قضیې را رسېدلې و چې د بهرنیو اړیکو لــوی مدیریت له لوري د نوموړي سندونو د پړاوونو له تېرولو څخه وروسته، د محترم مقام شفاهي لارښود ته په کتو سره ځنډول شوی دی.

۱۴ــ دې مدیریت ته له مالیې وزارت او د احصائیه او معلوماتو له ادارې څخه ۲۱۵ لیکونه را رسېدلي دي د پړاوونو له تېرولو وروسته اړوندو دوسیو کې ځای پر ځای شوي دي، د پاسپورټ ۵ عریضې له پړاوونو څخه تېر شوې دي او اړوندو مراجعو ته راجع شوې ده او هم دارنګه د تابعیت د پرېښودنې ۷۰ قضیې کمېسیون ته چمتو شوي دي چې په اړه یــې د

بهرنيو اړيکو د لوی مديريت د ۱۴۴۳/۷/۷ نېټې وړانديز وزارت محترم مقام ته وړانـــدې او د وزارت محتـــرم مقـــام د وړانديز په اړه داسې لاربنود ورکړی دی: بهرني
د بهرنيو رياست ته! په يو مناسب وخت کې د ياد کميسيون غونډه راوبلي.

## د داخلي پلټنې رياست په برخه کې:

د داخلي پلټنې رياست د خپلې تګلارې سره سم د عدليې وزارت د اړوندو اداراو له کړنو څخه څېړنه کړې چې له پلان سره سم د کړنو سربيره د فوق العاده موضوعاتو څېړنه يې هم کړې ده هريو په ځانګړې توګه د لاندې مطالبو په ترڅ کې ليکل کېږي.

د ترسره شوو دندو رقمونه:

**الف: د پلاني کړنو په برخه کې:**

د (پنجشير، ميدان وردګ، تخار، کاپيسا او بغلان ) ولايتونو د عدليې رياستونه چې مخکې څېړل شوي وو راپورونه يې د وروستيو کړنو په خاطر اړوندو رياستونو ته استول شوي دي.

د پاليسۍ او پلان او د بشری سرچينو رياستونو کړنې چې مخکې څېړل شوې وې ، راپورونو يې د وروستيو کړنو لپـــاره استول شوي دي.

او هم دارنګه د نظارت او کنترول د آمريت له لوري د عدليې وزارت اړوند (۹) رياستونو هر يو ( د پاليســـی او پـــلان رياست ، د حقوقو لوی رياست، د نشراتو رياست، د مالي او اداری چارو رياست، د بشری سرچينو رياست، د انســـجام لوی رياست، د بشر د حقوقو رياست، د بهرنيو اړيکو رياست، د حقوقي مرستو لوی رياست) څخه نظارتی راپور برابر او د وزارت د محترم مقام له تأييد څخه وروسته د کړنې په موخه اړوندو مراجعو ته استول شوی دی.

**ب:- د فوق العاده موضوعاتو په برخه کې :**

د داخلي پلټنې رياست پر پلان سربيره د قدرمن مقام د لاربنود پر بنسټ (۳٦) فوق العاده موضوعاتو په برخه کې کړنـــې ترسره کړي او راپورونه يي د مقام وزارت له تأييد څخه وروسته اړوندو ادارو ته د وروستيو کړنو په موخه استول شـــوي دی.

## د نشراتو رياست او دعامه ارتباط اريکو په برخه کې

**رسمي جريدې او سوداګريز اعلانونه:**

د (۳۲۱۳) شميرې مرکزي او ولايتي سوداګريز شرکتونه چې په (۳) رسمي جريدو کې چاپ شوي او (۱) شميره يي د چاپ لپاره آماده ده چې حق الاشاعه د دې شرکتونو (٦۷۷۹۰۰۰) افغانی کېږي د عدليې وزارت له لوري بانک ته تحويل شوي دي او جريده يې په ويب پاڼه کې خپره شوې ده.

توزيع او خرڅلاو:

- د (۱۵۳) شمېرې قوانين خرڅ شوي چې (۲۰۲۸۲) افغاني د عدليې وزارت له لوري بانک ته تحويل شـــوي دي، د نغدو پيرودونکيو په برخه کې (۱۲)شمېرې جريدې او (۲) شميرې د عدالت مجلې نغدي پيرودونکيو ته تحويل شوې دي.

- (۹۹) جلده سودا ګریز اعلانونه چې په (۱۴۱۱-۱۴۱۲-۱۴۱۲ او ۱۴۱۳) ګڼه جریدو کې چاپ شوي ولایتونو ته عدلیې ریاستونو ته لېږل شوي دي .

**کتابتون:**

- غیر اشتراکي ورځپاڼې: انیس (۱۰) شمېرې، هیواد (۱۰) شمېرې ، شریعت (۱۰) شمېرې، ارګ (۱۰) شمېرې دغه ورځپاڼي هره ورځ د وزارت مقام ته، د مرکزي ریاستونو محترمو ریسانوته او نورو چارواکو ته وېشل کېږي.
- (۷۹)جلده کتابونه د وزارت کارکوونکیو ته د مطالعې لپاره ویشل شوي چې د هغې له جملې څخــه (۳۲) جلــده کتابونه کتابتون ته بېرته راوړل شوي دي.
- (۲۳۴) مجلې د نورو اداراو نشریې چې وزارت ته راغلي دي د وزارت مقام او مرکزي ریاستونو ته ویشل شوې دي.

**ویب پاڼه**

- (۴) شمېرې د سوداګریزو اعلانونه، (۴۳۵) شمېرې جوازونه صادر شوي، (۱۱٦) شمېرې تجدید جوازونــه او (۳۱۹) شمېرې نوی جوازونه د معاملو د لارښوونې ریاست څخه راټول شوي، (۳۳) خبرونه خپاره شوي،په پښتو او انګلیسي ژبو ژباړل شوي چې ټولټال (۹۹) خبرونه کېږي، په ویب پاڼه کې خپاره شوي دي
- په ویب پاڼه کې د اووم بست ۴ د کار اعلانونه خپاره شوي دي.
- مرکزي او ۳۴ ولایتونو ته رسمي برېښنالیکونه جوړ شوي او د تخنیکي ستونزو حلولو لپاره اقدام شوی دی.
- د عدلیې د وزیر پیغام  په ویب پاڼه کې خپور شوی دی، دعدلیې وزارات له لوری په ویب پاڼه پته جوړه شوې او خپره شوې ده او هم دارنګه ۹میاشتني کاري راپور د عدلیې وزارت په ویب پاڼه کې خپور شوی دی.
- د ویاند او د هغه د معلوماتو د مسؤول صفحې په ویب پاڼه کې نوي شوي او معلومات یې په ویب پاڼه کې نشر شوي دي.
- په ویب پانه کې د ولایتونو د رئیسانو د تلیفون شمېرې خپرې شوي او د واټساپ ګروپ جوړولو لپاره ولایتونــو تــه د رئیسانو د ګرځنده واټساپ شمېرو راټولولو لپاره لیک لیږل شوی دی.

## د انسجام لوی ریاست په برخه کې:

۱ـــ د انسجام لوی ریاست توانېدلی دی د تجربه لرونکیو او مسلکي غړیو په تقرر سره په اداري سیستم کې د ښه والــې لپاره لازم بدلولونه رامنځته کړي.

۲ـــ د انسجام د لوی ریاست د اړوندو ځانګو دیتابیس باندې کار جریان لري او انشأالله په راتلونکې کې یــو مــنظم او معیاري دیتابیس به ولرو چې د اړوندو دفترونو هر اړخ ته ځواب ویونکی وي.

۳ـــ د انسجام لوی ریاست د متحدالمال د لیک په ترڅ کې د اړوندو ادارو د په وخت او د لا ښه کړنو د کاري بهیــر د ډول په اړه رسماً استولی دی څو له هغه سره سم خپل فعالیتونه تنظیم کړي.

۴ـــ د انسجام عمومي ریاست د متحد المال لیک په واسطه د ۳۳ ولایتونو د آمریتونو او مدیریتونو د کړنو په منظور، هغه کړنلارې چې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لوري منل او تأیید شوې وې رسماً استولې دي څو اړوندې ادارې د یادې کړنلارې پر بنسټ کړنه ترسره کړي.

۵ــ د ټولنو د دوسیو په تنظیم باندې کار دوام لري او داسې تنظیمېږي چې په راتلونکې کې د یو فایل په موندلو کې ستونزې رامنځته نه شي.

۶ــ د انسجام لوی ریاست توانېدلی ځو له پلان سره سم په مرکز کې د معاملو د لارښوونې له دفترونو څخه څارنه وکړي چې دغه څارنه په ۲۴ ولایتونو کې هم دوام لري او تر یو حد پورې د هغو غیر قانوني کړنو مخه نیول شوې ده او ټول د انسجام لوی ریاست له دې بهیر څخه راضي او خوښ دي دغه بهیر دوام لري او کار یې په لړ وخت کې په ښه توګه ترسره کېږي او همداراز د څارنې دغه بهیر د زیاتو ولایتونو په مرکز کې بشپړ شوی دی او مرکز ته یې ډاډ ورکړی دی په یو شمېر ولایتونو کې چې ٪۷۰ د موټرونو د پلورنځیو له جواز څخه پرته غیر قانوني فعالیت کول هغوی ته د افغانستان اسلامي امارت د مسؤلینو له لوري د موضوع حقیقت بیان شوی او د هغوی یې خپل تېروتنو ته متوجه کړي په دې زمینه کې خلک د هر ډول همکارۍ لپاره چمتو دي او همدا راز په مرکز او ولایتونو کې د انسجام لوی ریاست لاسته راوړل شوي عواید ټول (۲۴۴۰۰۲۸۹) افغانۍ دي چې د دولت د وارداتو حساب ته په بانک کې تحویل شوي دي.

۷ــ د ټولنو (۲۸) جواز لیکونه ثبت، د ټولنو (۳) جواز لیکونه غزول شوی او (۲۰) دوسیې تر دوران لاندې دي. همداراز د ټولنو له (۳۱) دفتر څخه لېدنه او د ټولنو له (۳) دفتر څخه څارنه شوې ده.

۸ــ د معاملو د لارښوونې (۳۷۵) نوي جواز لیکونه ویشل شوي، د معاملو د لارښوونې دفتر (۹۲) جواز فسخ شوی، د معاملو د لارښوونې له (۲۹۳) دفتر څخه څارنه او بررسۍ شوې د معاملو د لارښوونې (۴۸۰) دوراني فورم ویشل شوی، (۱۲۰۰) ستې مهر او نښاني شوې ده او همداراز (۱۰۱) دفتر تړل شوی دی.

۹ــ د عریضې لیکونکیو (۱۳۸) جواز لیکونه ثبت، د عریضې لیکونکیو (۱۰۲) جواز لیکونه غزول شوي دي.

## د امارت د قضایاوو د لوی ریاست په برخه کې:

۱ــ (۵۹) دوسیې چې د امارت د قضایاوو لوی ریاست ته رارسېدلی دی، اړوندو مراجعو ته د وروستیو کړنو لپاره استول شوی دی. (۸) دوسیې تر کار لاندې دي او همداراز (۸۰۳) نورو لیکونو او عریضو چې دې ریاست ته له اړوندو ادارو او ارګانونو څخه رارسېدلې دي د هغو په وړاندې لازمې کړنې ترسره شوي او د هغو اړوندو مراجعو ته استول شوي دي.

## د کابل ولایت د امارت د قضایاوو ریاست په برخه کې:

۱ــ د شپږو میاشتو په ترڅ کې د کابل ولایت د امارت د قضایاوو ریاست ته ۲۶۶ دوسیې رارسېدلې دي چې له د ې جملې څخه ۷۰ دوسیې د شرعي پرېکړې لپاره محکمو ته استول شوي ۴۶ دوسیې د حقوقو ریاست ته استول شوي، د هغو ۱۲۵ نورو ادارو ته استول شوي او د هغې ۴۵ دوسیې تر بررسۍ لاندې دي. همداراز ۸۶ لیکونو او عریضو ته هم رسېدنه شوې ده.

## د کابل ولایت د حقوقو ریاست په برخه کې:

۱ــ (۴۴۹۷) املاکي عریضې، (۱۳۳٦۰) دیوني عریضې او (۸۹۲) کورنۍ عریضې چې ټولې (۱۸۷۴۹) عریضې کېږي د کابل ولایت د حقوقو ریاست او د اړوندو ناحیو آمریتونو ته رارسېدلې دي چې له د ې جملې څخه (۵۸٦۵) عریضـــې محکمې ته راجع شوي، (۷٦۰) عریضې نورو ادارو ته راجع شوي، د هغې (۱۵۱) اصلاح شوی، د هغې (۵۲٦۰) تـــر دوران لاندې دي او (٦۷۱۳) حفظ شوې دي.

۲ــ (۱۷۸) املاکي دوسیې، (۲۸۸) دیوني دوسیې او (۱۴۱) کورنۍ دوسیې چې ټولې (٦۱۳) دوسیې کېږي د کابـــل ولایت د حقوقو ریاست او د اړوندو ناحیو آمریتونو ته رارسېدلې دي چې له د ې جملې څخه (۱۴۹) دوسیې پرېکړې لپاره محکمې ته راجع شوی، (۱۱۳) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوي، (۲۳۰) دوسیې تر دوران لاندې دي، (۹) تطبیـــق او (۱۱۲) حفظ شوې دي.

۳ــ (۲۷۰۲۴۱) افغانۍ د حقوقو محصول، (۱٦۸٦۸۷۸) افغانۍ د محکمو د پرېکـــړې محصـــول، او (۹۹۹۱۰۰۰) افغانۍ د عریضو له حق الثبت څخه ترلاسه شوی دی.

## د پالیسۍ او پلان ریاست په برخه کې:

۱ــ د ۱۴۰۰ مالي کال د دریېمې او څلورمې ربعې په ترڅ کې د وزارت د پایلو پر بنسټ له فعالیتونو او لاسته راوړنـــو څخه د راپور د برابرولو لپاره د تخنیکي پرسونل لاربنوونه او همکارۍ او د افغانستان اسلامي امارت د مقـــام د چـــارو د اداري د لوی ریاست د څارنې او ارزونې د محترم مرستیالی د څارنې او ارزونې ریاست ته د هغه وړاندې کول.

۲ــ د وزارت د وروستیو کلونو په پرمختیایي پلان کې د شاملېدو لپاره د دوه یمې واحدونو د وړاندیز شویو پروژو نوملړ او جدول بندي.

۳ــ د عدلیې وزارت د مرکزي ریاستونو د ۱۴۰۰ مالي کال د دریېمې او څلورمې ربعې د کاري راپوروڼـــو مونـــدل او راټولول او د ولایتونو د آرشیف او ایمیل آدرس له لارې.

۴ــ د ۱۴۰۱ کال د پایلو پر بنسټ د دریېمې او څلورمې ربعې او د مالي کال د پلان راپورونو د برابرولو په اړه مرکزي او ولایتي ریاستونو ته د متحد المال استول.

۵ــ د مافوق آمر تأییدي لپاره د پلان او پالیسۍ د تحلیل مدیریت د ۱۴۰۰ مالي کال د ۹ میاشـــتینۍ او درې میاشـــتینۍ کاری راپور وړاندې کول او له هغې څخه وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مقام د چارو د اداري لوی ریاســـت تـــه استول شوی دی.

٦ــ د دندو لایحې سره سم په ورځینۍ توګه له مرکزي او ولایتي ریاستونو څخه د رارسېدلیو راپورونو د راټولولو، تحلیل او توحید له پروسې څخه څارنه.

۷ــ د وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو د پایلو پر بنسټ، د ریاستونو د راپورونو ترلاسه کول، د دریېمې او څلورمې ربعې د راپورونو تحلیل او توحید او د هغو اړوندو مراجعو ته استول.

۸ــ د مرکزي او ولایتي ریاستونو د دریېمې او څلورمې ربعې د راپور په برابرولو کې د ولایتي او مرکزي کارپوهانو لـــه څانګې سره څارنه او همکاري او د چارو د اداري لوی ریاست ته د هغو استول.

۹ــ د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال د پایلو پر بنسټ د درییمې او څلورمې ربعې راپور برابرول او په پښتو ژبه د هغه ژباړل او د افغانستان اسلامي امارت د عالي مقام د چارو د ادارې لوی ریاست ته د هغه استول.

۱۰ــ د عدلیې وزارت له اړوندو ریاستونو څخه د ۱۴۰۰ مالي کال د دریيمې او څلورمې ربعې لپاره د احصائیې د معیاري د ډکو شویو ۹ فورمونو را ټولول.

۱۱ــ د ساده کولو له سیستم څخه په ګټې اخیستنې سره د ۱۴۰۰ مالي کال د څلورمې ربعې د احصائیوي فورمونــو د جدول برابرول او کمپیوتر کول.

۱۲ــ د مالي او اداري او د بشری سرچینو ریاستونو ته د ۱۴۰۰ مالی کال د دریيمې او څلورمې ربعې لــه احصــائیوي فورمونو سره د هغو د ډکولو لپاره د لیکونو استول.

۱۳ــ د آرشیف او ایمیل آدرس په واسطه د احصایې او معلو ماتو ملي ادارې ته د دریيمې او څلورمې ربعې له املــه لــه ډکولو، چک او کنترول څخه وروسته د احصائیوي معیاري ۹ فورمونو استول د ۱۴۰۰ مالي کال په دریيمې او څلورمې ربع کې تر سره شوي دي.

۱۴ــ دې ادارې ته د رارسېدلې احصاییوي فورمونو د عملي کړنو له غوښتنو څخه څارنه او تعقیبول او د احصائیې مرکزي محترمې ادارې ته له ډکولو، تحلیل او توحید څخه وروسته له ضمیمې سره یو ځای د هغو استول.

۱۵ــ د عدلیې وزارت په سایت کې د وزارت د کړنو د دقیق خپرولو لپاره د نشراتو او عامه اړیکو محترم ریاست تــه د عدلیې وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال د پایلو پر بنسټ د ۹ میاشتینۍ، درې میاشتینۍ او د ټول کال د راپور استول.

۱۶ــ د راپورونو د خلا او نیمګړتیا د لرې کولو او برابرولو او د پالیسۍ او پلان ریاست ته په ټاکل شوی وخت کــې د هغو د استولو همغږۍ لپاره مرکزي او ولایتي مسئولینو سره د موبایل له لارې اړیکه.

۱۷ــ د مافوقو آمرینو د لارښود په پام کې نیولو سره په ټاکلی وخت کې له اړوندو ادارو څخه د را رسېدلیو لیکونو پــه برخه کې لازمې کړنې ترسره کول.

۱۸ــ د پالیسۍ او پلان ریاست د ورځینیو غونډو جوړول او په ټاکلی وخت د هرې ربعې په پای کــې د کــاري راپــور وړاندې کول او د پالیسۍ او پلان ریاست د دندو او کاري پلان سره سم د دې ادارې د ورځینی کاري کړنــې صــورت مومي.

۱۹ــ د ولایتونو له عدلیې ریاست څخه د ۱۴۰۰مالي کال د دریيمې او څلورمې ربعې د محاصلو پر بنســټ د کــاري راپوروونه، د تحلیل او توحید لپاره راټول شوي دي.

۲۰ــ د عدلیې وزارت د ۱۴۰۱ مالي کال د پایلو پر بنسټ د پلان د غوښتنې په اړه اړوندو ټولو ریاستونو تــه د متحــد المال استول تحلیل، توحید او برابر شوی او د عدلیې وزارت رهبرۍ مقام او د افغانستان اسلامي امارت د مقام د چــارو ادارې ته د وړاندې کولو لپاره چمتو دی.

۲۱ــ په بودجه کې د شاملېدو لپاره د ۱۴۰۱ کال لپاره د وزارت د پرمختیایي پروژو پلان برابر او اړونده مرجــع تــه وړاندې شوی دی.

۲۲ــ د سرسبزۍ پروژې له پلي کولو او د ګلخانې د ودانې برخه او د ګلانو له پیلې څخه) څارنه شوې ده.

۲۳ــ د څښلو د اوبو له څاه کېندنې او د مسجد شریف د ودانې له کېندنې او هوارولو څخه څارنه شوې ده.

۲۴ــ د مسجد شریف د نقشې په اړه له حج او اوقافو محترم وزارت سره د همغږۍ غونډه جوړه شوې ده او هم داراز د موبایل د قبله ښودنې په واسطه د وزارت د مسجد شریف د قبلې ټاکل او تثبیت او د هغې د دقیق او شرعي ټاکل او تثبیت لپاره د حج او اوقافو له وزارت سره همغږي شوې ده او هم داراز د وزارت د مسجد شریف د نقشې د دیزاین برابرول.

۲۵ــ د وزارت مرکزي ودانۍ ثبت او سجل او اړونده شعبې ته د هغې وړاندې کول.

۲۶ــ د دوو پرمختیایي پروژو د وزارت د نوی کمپلکس د امنیتي تحکیماتو پروژه او په ده سبز ولسوالۍ کې د کابل د حقوقو ریاست د ودانۍ د نوی کمپلکس ضروري مواردو پروژې چې تېر کال بشپړې شوې دي د رسمي نظر څرګندول.

۲۷ــ د پخلنځی او د عدلیې وزارت د مرکزي ودانۍ د بام شاته د ناوو د ستونزې د رغولو په اړه د خدماتو آمریت ته د شفاهي تخنیکي نظریې وړاندې کول.

۲۸ــ د فاریاب د عدلیې ریاست د ودانۍ د پاتې شوې کار د پروژې د قراداد د وخت د غزولو په اړه د نظر څرګندول.

۲۹ــ د ټاکل شوی پلاوی په توګه د وزارت د داغمه اجناسو نوملړ او لیستول.

## د اداري او مالي ریاست په برخه کې:

۱ــ د شپږو میاشتو په ترڅ کې د مرکز او ولایتونو د ټولو کارکوونکیو معاشونه په بشپړ توګه اجرا او ورکړل شوي دي.

۲ــ د نګه عوایدو له درکه د (۲۵۲۸۱۸۲۶) افغانۍ تر لاسه کول او همداراز د بلا عوض مرستې له درکه (۵۳۷۲۶۵) افغانۍ تحویل.

۳ــ د اړوندو ریاستونو د ټولو کارکوونکیو معاش له وړی څخه د مرغومی میاشتو تر پای پورې په دریو برنامو کې برابر او اجرا شوی دی چې د دوه یمې برنامې ټول (۱۹٦۰۴۷۲۵) افغانۍ د دریېمې برنامې ټول (۱۲۱۷۳٦۴۲) افغانۍ او د څلورمې برنامې (۱۵۴۱۸۳۹۵) افغانۍ شوي دي.

۴ــ د باالمقطع کارکوونکیو معاش له وړی څخه د ۱۴۰۰ مالي کال د لېندی میاشتو تر پای پورې حواله او اجرا شوی دی چې ټولې (۲۰٦۳۱٦٦) افغانۍ شوي دي.

۵ــ د وزیر صاحب معاش د تلې له میاشتې څخه د مرغومی میاشتو تر پای پورې حواله او اجرا شوی دی چې ټول (۵۵۱۵۲۰) افغانۍ شوي دي.

٦ــ له کارکوونکیو څخه د دریو تنو اکرامیه (۴۳۴۰۰۰) افغانۍ او همداراز متفرقه معاشونه ټول (۱۲۷۷۸۰) افغانۍ.

۷ــ د payroll په معاش سیستم کې د (۱۹۵) کارکوونکیو ثبت او په کابل بانک کې د بانکي حساب د پرانیستلو لپاره د استعلام برابرول.

۸ــ له امکاناتو سره سم د ولایتونو د وسایطو د تیلو د محروقاتو لګښت تخصیصونو اجراآت شوي او هم داراز د عدلیې وزارت ټول اجناس، وسایط او شتمنۍ درې ځلې موجودي شوي دي.

۹ــ د وزارت ټولې تحویلخانې معاینه او مازاد اجناس تفکیک او لیلام ته چمتو شوي دي او همدارنګه د عدلیې وزارت ټول تجهیزات د مامورینو په جمع کې قید شوي دي.

۱۰ــ د عدليې وزارت ټول وسايط فعال او په ورځينۍ چارو کې د وزارت د مقام او رئيسانو د ګټې اخيستنې لپاره قرار لري، د وزارت ټول کاري دفترونه په مرکز او ولايتونو کې فعال او عاجل ضرورت يې لرې شوی دی او همداراز په هر مياشت کې د عدليې وزارت ټوله سيمه دوه ځلې پاکېږي.

۱۱ــ د عدليې وزارت اداري کمپلکس په سمه توګه او هر اړخيزه ساتنه کېږي او همداراز د لپ تاپ ټول هغه کمپيوترونه چې ښځينه مامورينو ته وېشل شوی و له هغوي څخه حصول او د هغوي له جمع څخه اعاده شوې ده.

۱۲ــ د آويزونو او د بانکي حساب صورت سنجش او توحيد په (۱۰۰۰) قطعو کې اجراآت شوي دي، مراجعينو لپاره په نوی سيستم کې د عوايدو د پيسو د تحويلي لپاره (۲۵۰) قطعې اجراآت شوي دي او هم دارنګه د عوايدو د راټولولو په سيستم کې د نقدي او لېږدييزو آويزونو ثبتول (۱۰۰) قطعې اجراآت شوې دي.

۱۳ــ د (م ۲۸) په ژورنال دفتر کې د نقدي او لېږدييزو آويزونو معامله کول (۲۵۸۱۹۰۱۹) افغانۍ، د عادي (م۱٦) فورم اجرا، ۱۱۰ قطعې، د (م۱۳) فورم اجرا د هېواد ولايتونو ته د کارکوونکيو د کرايې او سفريې اجرا، (۱۰) قطعې، د (م۷) فورم د رسيد راپور پر بنسټ د (م۱۲) محسوبي فورم اجرا او د معتمد له وجه څخه د مبلغونو مجرايي، ۱۸ قطعې او همدارنګه د معتمد په وجه د (م۱۲) فورم پر بنسټ د (م۱۰) کارتونو معامله ۸ قطعې.

۱۴ــ د م ۱٦ حواله صادرول ۴ حوالې، د محسوبي م ۱۲ حواله صادرول ۴۵ حوالې، د کرايې او سفريې م۱۳ حواله صادرول ۵ حوالې او همداراز د م۱۰ حواله صادرول ۵ قطعې.

۱۵ــ د AFMIS په سيستم کې د عادي او پرمختيايي بودجې برخې د م۱٦ فورمونو ثبتول، د عادي او پرمختيايي بودجې برخې د ټولو حوالو پر وخت اجرا او همداراز له ماليې محترم وزارت سره د خزانه دار د وجې د تېر کال د حسابونو تصفيه.

**د اداري او مالي رياست د تکنالوژۍ او معلوماتو د خدمتونو د انسجام آمريت:**

۱ــ د ۱۴۰۱ مالي کال لپاره د وزارت انټرنيټ سرعت له ۷۰ ام بی څخه ۱۰۰ ام بی ته لوړول.

۲ــ د روشن او MTN مخابراتي شرکتونو له لوري په لوړ تخفيف سره د وزارت کارکوونکيو ته د سيمکارتونو قرارداد او د روشن مخابراتي سيمکارتونو د وېش پيل.

۳ــ د معاملو د لارښوونې، بشري سرچينو (ID Card)، روغتيا، نشراتو او کتابتون د ډيټابيسونو د ستونزو حل او همدارنګه د الکترونيکي حاضري د ستونزو حل.

۴ــ نويو کارکوونکيو ته د انټرنيټ د لاسرسۍ زمينه برابرول او همدارنګه دغه آمريت ته نوی مسلکي آمر او دوه نورو مسلکي انجنيران استخدامول.

۵ــ د دغه آمريت يو تن مسلکي کارکوونکي له لوري د وزارت کارکوونکيو ته د انګليسی ژبې د زده کړې کورسونه جوړول.

٦ــ د سرور روم خونې لپاره د ضرورت وړ وسايل برابرول او نصبول او همدارنګه د وزارت د ودانۍ مخامخ ودانۍ ته د انټرنيټ د نښلولو وسايل برابرول.

## د حقوقو د لوی ریاست په برخه کې:

د افغانستان اسلامي امارت په بریا سره د حقوقو لوی ریاست په داسې حال کې چې په زیاتو ستونزو اخته و د ریاست د احیأ او د بیا رامنځته کولو کې د کابل ولایت له مقر او د عدلیې ریاست څخه، د اجرائیوي دفترونو د برابرولو او تنظیم لپاره لاندې رغنده فعالیتونه تر سره کړي دي:

۱ـــ د چارو د انسجام په برخه کې د ۱٦٥۰ لیکونو په ذریعه ارسال او مرسول صورت نیولي دي.

۲ـــ له املاکي ، سوداګریز دیون او کورنۍ قضایاوو څخه ۴۴۸ عریضې ثبت او لازمه اجراآتو لپاره د هغې اړونـــدو شعبو ته لاربنود ورکړل شوی دی.

۳ـــ د ولایتونو د حقوقو آمریتونو پورې اړوند د ۳۲۵ حقوقي دوسیو له جملې څخه ۱۷۴ د املاکي قضایاوو دوسیې، ۵۴ د سوداګریزو دیونو دوسیې او ۹۷ کورنۍ قضایاوو دوسیې د لازم قضایي تصمیم نیولو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته راجع او ۱۷٦ دوسیې د ولایتونو د حقوقو آمریتونو ته استول شوي دي.

۴ـــ د تېر حکومت د قطعي پرېکړو لرونکو قضایاوو په وړاندې د لاربنود د صادرولو او د لاربنودنې د ترلاسه کولـــو لپاره همداراز د اداري د ښه والي په برخه کې لازم وړاندیزونه برابر او وړاندې شوي دي.

۵ـــ د املاکي قضایاوو د ۸ استهدائیې، د سوداګریزو ۳ استهدائیې په اړه د دې ریاست د مسلکي غړیو پـــه واســـطه اړونده مرجع ته لاربنوونه او لازم حقوقي ځواب ورکړل شوی دی.

٦ـــ د مسلکي غړیو په واسطه د حقوقي شکایاتو ټول ۲۴ قضیې بررسي او نظر څرګند کړی دی او د حق غوښتونکیو ۴۲ تنو ته، د شرع شریف له حکمونو او د مرعي الاجرا پروسیجرونو سره سم حقوقي مشورې ورکړل شوي.

۷ـــ د څارنې په برخه کې د ښاري او ولایتي واحدونو له اجراآتو څخه ۳۱۱ دوسیې د دیتابیس سیستم د ثبـــت لـــه اجراآتو څخه د څارنې په ډول څارنه شوې ده چې د څارنې په عملیه کې د هغه اصلاح ته د لاربنود د صادرولو لپاره د دوسیې خلا او نیمګړتیاوې څرګندېدل په کې شامل دي.

همداراز د حقوقي پوهاوي ورکولو میاشتینۍ مجلې د تدوین د بیا تر خپرولو برخه کې د حقوقي میاشتینۍ خپرولو لپاره د بېلګې په توګه ۵ مقالې د پړاوونو د تېرولو برابر د دیزاین لازم تدبیرونه نیول شوي دي.

## د بشري سرچینو ریاست په برخه کې:

۱ـــ د ۱۴۰۱ کال د تشکیل برابرول او نهایي کول چې ټول ۲۲۰۸ بست رانغاړي چې له هغې جملې څخه په مرکزي ریاستونو کې ۸۱۳ بست او د ولایتونو په عدلیې ریاستونو کې ۱۳۹۵ بستونه دي.

۲ـــ په تشکیل کې چې لوی بدلونونه رامنځته شوي دي: ۱ـــ هغه اضافي بستونه چې جدي اړتیا ورته نـــه وه تنقـــیص شوي دی د هغو په بدل کې د اداري د اړتیا وړ بستونه زیات شوي دي. ۲– د وزارت په تشکیل کـــې د وزارت پـــه مرکز کې دوه ریاست د دعوت او ارشاد او د مدافع وکیلانو ریاست تر عنوانو لاندې رامنځته شوي دي. ۳– د عدلیې وزارت د دندو د ښه تنظیم او د عدلي او قضایي ښه خدمتونو د وړاندې کولو په منظور د اړوندو ریاستونو له غوښتنې سره سم نور بدلونونه.

۳ــ کارکوونکیو لپاره ۳۰۴ هویت کارتونه وېشل شوي دي او همدارنگه د مرکزي او ولایتي د نویو مقــرر شــویو کارکوونکیو ۴۴ سوانح دفترونه برابر شوي دي.

۴ــ د ۷ تنو مرکزي او ولایتي کارکوونکیو استعفی معامله شوه او همداراز اړونده مرجع ته د مرکزي او ولایتي موافقه شویو کارکوونکیو د ۹ خلص سوانحو استول.

۵ــ اړوندو ریاستونو ته د مرکزي او ولایتي نویو مقرر شویو کارکوونکیو لپاره د ۱۲٦ قلمي خلص ســوانح اســتول شوي دي، د مرکزي او ولایتي کارکوونکیو لپاره ۳۳ خلص سوانح برابرې او و ویشل شوې، یو تن تقاعد ته ســوق شوی دی او همدارنگه د کارکوونکیو د تأدیب مواردو د اجرا په منظور د کارکوونکیو د سوانح په دفتر کې ۲ اخطاره درج شوي.

٦ــ د منتظر با معاش ٦۴۵ تنه کارکوونکي، ۲۰۸ تنه اجیران، د منتظر با معاش د ښځینه له طبقې څخه ۳۷ تنــه او همداراز د منتظر با معاش د نارینه له طبقې څخه ۱ تن د مقام له لاربنود سره سم دي، د احصائیه میاشتینۍ راپور برابر او د هغه مرجع ته واستول شو.

۷ــ د مرکزي ریاستونو د نویو مقرر شویو ٦۷ تنو کارکوونکیو لپاره د یوې نیمې میاشتې په موده کې د اداري کړنــو برنامه جوړه شوه، د وزارت د ۵۹ تنو سابقه کارکوونکیو لپاره د شرعي دورې تر عنوان لاندې زده کړه ییزه برنامــه جوړه شوه او اوس هم جریان لري، د مرکزي کارکوونکیو ۷۰ تنو لپاره د انگلیسي ژبې د زده کــړې د ظرفیــت د لوړوالي په برخه په دریو ټولگیو کې برابر شوي دي او همداراز د کارکوونکیو د کاري مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره د مرکزي ۱۰ تنو رئیسانو او آمرینو لپاره، د کمپیوتر د زده کړې دوه ټولگي پیل شوي.

۸ــ د مرکزي ریاستونو د ۲۲ بې سوادو او کم سوادو خدماتي کارکوونکیو لپاره د لیک لوست ټولگي با ځلی پیــل شوي دي.

۹ــ لمونځ کوونکي ته په مسجد کې د ماسپښین د لمانځه له ادا کولو څخه وروسته هره ورځ وعــظ او نصــیحت صورت مومي.

۱۰ــ د روغتیایي چارو په برخه کې د تېرو شپږو میاشتو په ترځ کې ۲۸۳۴ ناروغان مراجعه او ثبت شوي چې (معاینه، سراپا، کنول، سیروم، زرقیات او پانسمان) او همداراز د اړتیا په صورت کې له وزارت څخه بهر روغتونونو تــه هــم معرفي شوي دي.

۱۱ــ ۱۵ شکایتونه ثبت او بررسي شوي دي، په مرکز او ولایتونو کې ۵۴۸ تنه کارکوونکي استخدام شوي دي، د ادارې د لزوم دید او اړتیا ته په کتو سره له یوه بست څخه بل بست ته مرکزي او ولایتي ۴۵ تنه کارکوونکي تبــدیل شوي دي، مرکزي او ولایتي ۲۴ تنه کارکوونکي په خدمتي ډول توظیف شوي دي، مرکــزي او ولایتــي ۱۰۵ تنــه کارکوونکي د وظیفوي غیابت له امله له بست څخه منفک شوي دي او همــداراز مرکــزي او ولایتــي ۳۴۹ تنــه کارکونکي د هغوی په عوض مقرر شوي دي.

**د مقام د دفتر ریاست په برخه کې:**

۱ـــ ۳ مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ شوي دي او همدارنګه د وزارت د مقام او اړوندو برخو په واسطه له رسنیو ســـره ۲۵ ځله مرکه تر سره شوې ده.

۲ـــ ۳۳ خبرونه برابر شوي دي او د وزارت په ویب سایت او ټولنیزو صفحو کې خپاره شوي دي، ۲۰ خبـــر پـــاڼې برابرې شوې او رسنیو ته استول شوې دي، ۱۱ مطبوعاتي اعلامیې برابرې شوې دي او همداراز ۹۵ ځله اطلاعـــات غوښتونکیو ته وړاندې شوې دي.

۳ـــ د افغانستان اسلامي امارت د مقام ٦ فرمانونه، د افغانستان اسلامي امارت د محترم مقام ۳ حکمونه، د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرأ ۷۱ حکمونه، د افغانستان اسلامي امارت د کابینې ۲۴ مصوبې، د وزیرانو د شورى د اقتصادي کمېټې ۲ مصوبې، د وزارت د مرکزي ریاستونو ۲۱٦۸ وړاندیزونه او استهدآآت، د ریاست الوزرأ محتـــرم مقام عنواني ۳۱ وړاندیزونه، او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرأ د عالي مقام ۲ لاربنودونه له پړاوونو څخه تېر او اجرآآت شوي دي.

۴ـــ ۲۱۹ لیکونه او ۱۸۲۵ املاکي، دیون، کورني او متفرقه حقوقي عریضې اجرا شوې دي او همدارنګه  د آرشیف په برخه کې ٦٦۱۷ لیکونه وارده او صادره، ٦۵۹٦ لیکونه رسیدات، ۱۰ استعلام، ۴۷۰ کارتن حفظ او ســـاتنه، د وارده او صادره۲۰۰ کتاب حفظ او ساتنه او ۹ لیکونه د نیمګړتیاوې له امله اعاده شوې دي.

**د حقوقي مرستو د لوی ریاست په برخه کې:**

۱ـــ عقیدتي برخه: د دې اداري ټولو کارکوونکیو ته د فقهي عقیدتي درسونو د وړاندې کولو لپـــاره د لـــوی رئـــیس صاحب تر رهبرۍ لاندې ورځینۍ او دوامدارې غونډې په حضوري ډول تدریس شوي دي.

۲ـــ اداري برخه: ۲۰۰ لیکونه وارده نیول شوي دي او اړوندو ادارو ته ٦۰ لیکونه صادر شوي دي. همـــداراز ۱۲ وړاندیزونه برابر شوي دي او ٦ استعلامونه لیکل شوي دي په داسې ډول د کارکوونکیو اجناس او دفتري لوازم چې د ۱۴۰۰ کال د تشکیل پر بنسټ د ښاري حقوقي مرستو ریاستونو کې تعین بست شوي وو بیا د وزارت مرکز ته لېږدول شوي دي د شعباتو د هغې برخې کارکوونکیو ته برابر او تنظیم شوي دي.

۳ـــ مسلکي برخه: دا چې د دې مودې په ترڅ کې محکمو او څارنوالي غیر فعال وو خو له دې سره سره له اســـلامي شریعت او د هېواد له نافذو قوانینو سره سم د تورنو او مظنونینو له حقوقو څخه د دفاع لپاره عدلي او قضایي ارګانونو ته په ۱۸ قضیو کې حقوقي مرسته کوونکي ټاکل شوي دي او د ( امیرالمؤمنین فرمانونو، د اسلامي امارت د رئـــیس الوزرأ لاربښود،د مهر مفهوم، د مهر د مشروعیت دلیل، د مهر ډولونه، د مسلمینو حق مســـلمان بانـــدې، د اســـلامي شریعت په روحیه د ماشومانو تربیت او...) په اړه ۱۰۸۳ تنو ته حقوقي پوهاوي، حقوقي مشورې ۱۹۸ تنو غوښتونکیو ته  د حقوقي مشورې وړاندې کول او په یادو مواردو کې د حقوقي پوهاوي ۲۰ پیغامونه د فیسبوک له لارې خپـــاره شوي او د زابل په ولایت کې دوه رادیویي برنامې تر سره شوي چې له هغه څخه ۴۴۵۰ تنو اوسیدونکیو ګټه پورتـــه کړې ده.

۴ــ د تقنيني سندونو برخه: د افغانستان اسلامي امارت د وزيرانو د کابينې د ۹ ګڼې لومړی بند د مصوبې له تعميل سره د حقوقي مرستو د تنظيم د مقررې بيا کتنه او د حقوقي عامه پوهاوي د مقررې بيا کتنه تر سره شوې ده.

۵ــ د هوکړه ليکونو برخه: د (ان – أر – سی) مؤسسې د رارسېدلې هوکړه ليک په اړه نظر څرګند شوی دی.

## د بشر حقوقو د ملاتړ رياست په برخه کې:

۱ــ د بشر حقوقو د ملاتړ رياست د زده کړو د آمريت په برخه کې د غربي بشر له حقوقو سره د اسلامي بشر د حقوقو د توپيرونو او پرتليزه مطالعه، څېړنه او څېړنه شوې ده.

## د تهيه او تدارکاتو آمريت په برخه کې:

۱ــ د (۳۲۰۰۰) ليترو تيل تهيه او تدارک بشپړ شوی، د وزارت د قرطاسيو تهيه او تدارک بشپړ شوی او همدارنګه د استبلايزر تهيه او تدارک بشپړ شوی دی.

۲ــ د ملي تدارکاتو اداري له لوري د پنځو کلونو لپاره د انترنت تهيه او تدارک قرارداد شوی دی.

۳ــ طبع او نشر تهيه او تدارک قرارداد شوي او همدارنګه د ۴۴٪ آهن چادر دکت د کار پرمختګ درلود.

---

له پورتنۍ شرحې سره سم دغه راپور برابر او تقديم دی.

**د راپور برابروونکی:**
مفتي نياز محمد "شاکر"
د پاليسۍ او پلان رئيس

**د راپور تصديقوونکی:**
مولوي عبدالحکيم "شرعی"
دعدلیې وزارت سرپرست